

# شانِ حافظِ ملّت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه

پښتو



پیشکش: مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# شانِ حافِظِ مِلَّت

**[redacted] یا الله پاکه! خوك چې دا رساله ”شانِ حافِظِ مِلَّت“ اولوَلي یا ئې واوري هغه ته د خپل نیک بنده حافِظِ مِلَّت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ برکتونه نصیب کړې او بے حسابه ئې اُو بخښې. آمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم**

## د دُرود شریف فضِیلت

د الله پاك آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: په ما باندې دُرود شریف وئیلو باندې خپل مجلِسونه ښائیسته کړئ ځکه چې ستاسو دُرود شریف وئیل به په ورځ د قیامت ستاسو د پاره نُور وي. (فردوس الاخبار ج۲ ص[illegible] حدیث[illegible]، دار الفکر بیروت)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د پیرِ طریقت، رهبرِ شریعت، قائدِ قوم و ملّت، مُقتدائے اَهلِ سنّت، اُستاذُ العُلماء، حضرت حافِظِ مِلَّت حضرت علّامه مولانا شاه عبدُالعزیز مُحَدِّثِ مُراد آبادِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ نوم ”عبدُالعزیز“ او لقب ”حافِظِ مِلَّت“ دے سلسله نسب ئې عبدُالعزیز بِن حافظ غلام نور بن مولانا عبدُالرَّحیم رَحِمَهُمُ اللّٰہُ عَلَیْهِم دے.

## پیدائش مبارک

هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په ۱۳۱۲ھ بمطابق 1894ء قصبه بهوجپور (ضلع مراد آباد یو پي هِند) کښې د کُل په ورځ د سحر په وخت کښې دې دُنیا ته تشریف راوړلو.

# د خپل نیکه پیشن ګوئي

د هغوئي نیکه مولانا عبدُالرّحیم رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دهلي د مشهور مُحَدِّث شاه عبدُالعزیز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په نِسبت د هغوئي نوم عبدُالعزیز کیښودلو چې زما دا بچے هُم عالِمِ دین جوړ شي. (مختصر سوانح حافِظِ مِلَّت ص۱۸ بتغییر، المجمع الاسلامي مبارکپور هند)

# د والِدِ ماجِد خواهش

د والِد صاحِب حضرت حافظ غلام نور رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ئې د شروع نه دا خواهش وو چې دوئي د یو عالِمِ دین په حیثیّت د دین خِدمت اُوکړي، په دې وجه بهوجپور ته به چې کوم یو غټ عالِم یا شیخ راتللو نو هغوئي به خپل صاحبزاده حضرت حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ځان سره د هغوئي صحبت ته بوتللو او عرض به ورته کولو چې: حضور! زما دې ځوي د پاره دُعا اوکړئ. (حیات حافِظِ مِلَّت ص۳۶ ملخصاً، المجمع الاسلامي مبارکپور هند)

# د حضرت حافِظِ مِلَّت والِدین

د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه والِدِ محترم د احکامِ شرع پابند، مُتّبعِ سنّت، باعمل حافِظ او عاشِقِ قرآن وو. په ولاړه، ناسته روانه هر حالت کښې به ئې د قرآن تلاوت په ژبه جاري وو، قرآن ورته دومره مضبوط حِفظ وو چې هغوئي د ”لوئي حافِظ جي“ په لقب مشهور وو، د ماشومانو عمر به چې څنګه ووه (7) کالو ته اُورسیدو نو د لـمانځه او روژے تاکید به ئې ورته کولو. که څوك به مُلاقات ته راغلل نو ډیره میلمستیا به ئې کوله، که میلمه به لـمونځ ګزاره وو نو شپې ته به ئې پاتې کولو ګنې خوراك به ئې پرې اوکړو او رخصت به ئې کړو، کله چې ئې حج دا کړو او د [مدینے مُنَوَّرے] زیارت نه مشرّفه شو او واپسئ کښې ورسره خرچه ختمه شوه نو چا ته د سوال کولو په ځائے ئې خپل محنت او مزدوري اوکړه او نهه میاشتې پس ئې تشریف راوړلو. تقریباً د سلو کالو په عمر کښې د دې فاني

دُنیا نه د همیشه پاتې کیدونکي دُنیا په طرف لاړلو.(حیاتِ حافظ ملّت ص ملخصاً. المجمعُ الاسلامي مبارکپور هند)

د هغوئي مور صاحبه رحمۃ اللہ علیہا به د لمانځه او روژے ډیره پابنده وه. د مُسلمانانو د خیر ښیګړې او اِیثار داسې جذبه ورنصیب شوي وه چې په خپل کور کښې ئې غریبي وه خو د دې باوجود به ئې د ګاونډیانو ډیر خیال ساتلو، اکثر به ئې خپل طعام یوې کونډې ګاونډۍ ته ورکولو او ځپله به اُوږې پاتې شوه. (حیات حافظ ملّت ص ملخصاً)

## اِبتدائي تعلیم او د قرآن حِفظ

حضرت حافِظِ مِلّت رحمۃ اللہ علیہ ابتدائي تعلیم ناظره او حفظِ قرآن د خپل والدِ محترم حافظ غلام نور رحمۃ اللہ علیہ نه حاصل کړو. د دې نه عِلاوه د اُردو څلور جماعته ئې خپل وطنِ عزیز بهوجپور کښې اُووئیل، او د فارسۍ ابتدائي کتابونه ئې بهوجپور او پیپل سانه (ضلع مُراد آباد) کښې اُووئیل خو د کور د مسائِلو په وجه ئې تعلیم موقُوف کړو او بیا د بهوجپور د کلي مدرسه کښې په حفظُ القرآن کښې مدرِّس شولو او په غټ جُمات کښې ئې د اِمام په طور فرائض ادا کول شروع کړل. (مختصر سوانح حافِظِ مِلّت، ص ملخصاً)

حافِظِ مِلّت رحمۃ اللہ علیہ په کال 1339ھ کښې تقریباً د 27 کالو په عمر کښې "جامعه نعیمیه" مُراد آباد کښې داخِله واخِسته او درې کاله پورې ئې تعلیم حاصِل کړو. خو دغه وخته پورې ئې د علم شوق ډیر زیات شوے وو او اوس د دې د حاصلولو د پاره په تلاش کښې وو. (مُختصر سوانح حافظ ملّت، ص ملخصاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د عِلم د حاصِلولو د پاره د عُمر هیڅ قید نِشته، یقیناً علمِ دین حاصِلوَل د خوش نصیبه خلقو حصه ده، که ممکِنه وي نو په درسِ نظامي کښې داخِله واخلئ او د زړه په اخلاص سره علمِ دین حاصِل کړئ او د دې ډیر برکتونه حاصِل کړئ. که داسې نه شئ کولے نو د عاشقانِ رسول مَدَني تحریك دعوَتِ اِسلامي د سنّتو ډَکو مدني

قافِلو کښې سفر کوئ حکه چې دا هم د علمِ دين حاصِلولو او د بيشميره بَرکَتونو حاصِلولو ذريعه ده. د علمِ دين شوق پيدا کولو د پاره يو حديث واورئ او علمِ دين حاصِلولو کښې مشغول شئ.

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوک چې علم حاصل کړي او هغه اُومومي هُم، نو د هغه د پاره ډَبل ثواب دے او چې څوك ئې اُو نه موندے شي نو د هغه د پاره يو ثواب دے. (مشكاة المصابيح ج ص حديث، دار لكتب العلمية بيرت)

**مشهور** مُفسّر حکيم الامّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډبل ثواب په وضاحت کښې فرمائي: يو د علم په طلب کولو باندې او بل په موندلو [يعني زده کولو] او يَادَوَلو باندې ځکه چې دا دواړه عِبادتونه دي. او د يو ثواب په وضاحت کښې فرمائي: يا چې د طالب علمئ په زمانه کښې وفات شي چې د مکمل کولو موقع ورته مِلاؤ نه شي او يا د هغه ذِهن کار نه کوي او بيا هم لګيا وي نو بيا هم ثواب دے. (مرآة المناجيح ج ص، ضياء القرآن پبلي کيشنز لاهور)

## د صدرُالشريعه شَفقَت

**شَوَّالُ الْمُكَرَّم 1342**ھ کښې حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سبق خپلو يو څو ملګرو سره اَجمِير شريف ته لاړلو، په هغوئي کښې امامُ النَّحو حضرت علّامه غلام جيلاني ميرټهي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم وو. چنانچه صدرُالشّريعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ټولو ته په جامِعه مُعِينِيه کښې داخِله وَرکړه، ټول درسي کتابونه په ټولو مُدرِّسينو باندې تقسيم شول خو حضرت صدرُالشريعه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پرې دا شَفقت اوکړلو چې د خپلو مصروفياتو نه ئې ځان فارِغ کړلو او د تهذيب او اُصولُ الشّاشي درس به ئې ورکولو. د علمِ منطق کتاب "حَمدُ الله" پورې تعليم حاصِلولو نه پس حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د معاشي پريشانئ او ذاتي مصروفياتو په وجه د نور تعليم جارِي نه ساتلو [يعني د باقي کتابونو نه وئيلو] اراده اوکړه او د دوره حديث شريف وئيلو خواهش

ئې ظاهر کړو نو حضرت صدرُالشّریعه رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ وَرته په شفقت سره اوفرمائیل: د آسمان نه زمکه جوړیدے شي، غر د خپل ځائے نه خوزیدے شي، خو چې ستا یو کتاب هم پاتې شي داسې نه شي کیدے. چنانچه هغوئې خپله اراده ختمه کړه او بنه د زړه په تَوجُّه سره ئې د صدرُالشریعه رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ په خدمت کښې د علم منازِل سر ته اُورَسَوَل، آخر دا چې د استادِ محترم صدرُالشریعه رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ په فیض په 1351ھ بمطابق 1932ء کښې د دارُالعلوم منظرِ اسلام بریلي شریف نه ئې دوره حدیث مکمّل کړو او دستار بندي ئې اوشوه. (حافِظِ مِلّت ص۳ ملخصاً وغیرہ)

# مُبارك پور ته راتلل

هغوئې رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ په ۲۹ شَوَّالُ الۡمُکَرَّم۱۳۵۲ھ بمطابق 14 جنوري 1934ء کښې مبارك پور ته لاړلو او په مدرسه مِصباحُ العُلوم (واقِع محلّه پراني بستي) کښې په تدرِیسي خِدماتو کښې مصروفه شو. صرف یو څو میاشتې شوې وې چې د هغوئې رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ طرزِ تدریس او علم و عمل مشهور شو او د علم حِرص لرونکو دومره ګڼه جوړه شوه چې په مدرسه کښې ځائے کم شو او د یوې لوئے مدرسے ضرورت محسوس شو. چنانچه هغوئې په خپلو کوشِشونو په ۱۳۵۳ھ کښې د دنیائے اِسلام یوې عظیمې درسګاه (یع نې د یو دارالعلوم ) د تعمیر آغاز په ګوله بازار کښې اُوکړو چې د هغې نوم د سُلطان التّارِکین حضرت مخدُوم سیّد اشرف جهانګیر سمناني رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ په نِسبت دارالعلوم اشرفیه مِصباحُ العُلوم کیښودے شو. (سوانح حافِظِ مِلّت ص۱۰ تا ۱۱ وغیرہ)

حضرت حافِظِ مِلَّت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِ په شَوَّالُ الۡمُکَرَّم ۱۳۶۱ھ کښې د څه مسائلو په وجه استعفٰي وَرکړه او جامِعه عَربِیه ناګپور ته ئې تشریف یوړلو، ولې چې هغوئې د مالیاتو د فراهمئ او تعلیمي اُمورو کښې ډیر مهارت لرلو، لهٰذا د هغوئې د دارالعلوم اشرفیه نه د تللو نه پس د هغه ځائے تعلیمي او معاشي حالات ډیر زیات خراب شول بیا د حضرت صدرُالشریعه رَحۡمَۃُ

اللہِ عَلَیْہ په حکم په کال۲ھ کښې ئې د ناګپور نه استعفٰي ورکړه او بيرته ئې مُبارکپور ته تشريف راوړلو او د ژوند د آخري ساعته پورې په دارُالعلوم اشرفيه کښې په تدريسي او ديني خِدماتو کښې مشغوله شو. د حافِظِ مِلّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په کوشِشِونو د مفتي اعظم هند شهزاده اعلٰي حضرت مفتي محمد مصطفٰي رضا خان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په لاسو مبارکو په کال۳ھ بمطابق 1972ء کښې د مبارك پور په ډيره فراخه زمکه (يعني د زمکې په يوه غټه حِصّه) باندې د الجامعةُ الاشرفيه (عربي يونيورسټي) بنياد کيښودلے شو. (حيات حافِظِ مِلّت ص ۶۵۰ ملتقطاً)

## د اُستاد ادب

حافِظِ مِلّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به د حضرت صدرُالشريعه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په مخکښې هميشه په ګونډو [يعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې] کښيناستلو، که صدرُالشريعه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به د څه ضرورت په وجه د کمرے نه بهر تشريف وړلو نو طَلَبه به هميشه اُودريدل، او د هغوئي د تللو نه پس به کښيناستل او چې بيرته به ئې تشريف راوړلو نو طَلَبه به بيا ادباً اُودريدل خو حافِظِ مِلّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به په دې ټول وخت کښې ولاړ وو او د صدرُالشريعه رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خپل مَسندِ تدريس باندې د کيښناستلو نه پس به کښيناستلو. (حيات حافِظِ مِلّت ص۷ ملخصاً)

## د کتابونو ادب

هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به که په قِيام ګاه کښې وو او که په درس ګاه کښې به وو خو کله به ئې هم يو کتاب په ملاسته يا په ډډه وَهَلو نه لوَستلو او نه به ئې چا ته داسې ورلوستلو بلکه په بالښت يا په ډيسك باندې به ئې کيښودلو، که د کور نه مدرسے ته يا د مدرسے نه کور ته به ئې يو کتاب وړلو نو په ښي لاس کښې به ئې د سينے سره نيولے وو. که يو طالِبِ علم به ئې اوليدلو چې هغه به کتاب په لاس کښې زوَړَند نيولے وو او روان به وو نو فرمائيل به ئې: کتاب چې د سينے سره اُولګولے شي نو سينے ته به کُوز شي او که د سينے نه لرې

اونيولے شي نو د سينے نه به هُم لرې شي. (حيات حافِظِ مِلَّت ص۲۱ بتغيير)

## د قرآنَ پاك ادب

يو ځل د چُھٹیٔ نه پس ډير طلَبه د دارُالعُلومِ اهلِسنّت اشرفيه د پوړو خوا سره د حضرت حافِظِ مِلَّت رَحمَۃُاللہِ عَلَيه د ديدار او ملاقات د پاره په انتظار ولاړ وو، هغوئي رَحمَۃُاللہِ عَلَيه چې تشريف راوړلو نو ټول طلبه د هغوئي د ادب په وجه په هغوئي پسې شاته شاته روان شول. ناڅاپه هغوئي يو طالِبِ عِلم ته اوفرمائيل: چې تاسو زما نه مخکښې مخکښې ځئ. دا ئې چې واوريدل نو هغه طالِب علم د حيا په وجه نه شو مخکښې کيدلے نو هغوئي ورته اوفرمائيل: تا سره قرآن شريف دے، ځکه درته وايم چې مخکښې ځه. (حيات حافِظِ مِلَّت ص۲۱)

*محفوظ سدا رکھنا شہا بے ادبوں سے   اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو*

(وَسائلِ بخشِش ص ۱۹۳، مَکتَبَۃُ الْمَدِینہ کراچی)

## په طلبه باندې شفقت

حضرت حافِظِ مِلَّت رَحمَۃُاللہِ عَلَيه به ديني طَلَباء سره ډير زيات محبّت لَرَلو، د طَلَبه په کومه غلطئ باندې به ئې د هغوئي د مدرسے نه وِيستل نه خوښول او فرمائيل به ئې: د مدرسے نه طالِبِ علم وِيستل داسې دې لکه چې يو پلار خپل ځوئ عاق (يعني بيل) کړي يا د بدن نه يوه بيماره ټکړه کټ کړي، نور به ئې فرمائيل: د انتظامي مصالِحو (يعني فوائدو) په وجه اګرچه دا شرعاً مباح دي، خو زه دا هُم د اَبغَضو مُباحاتو نه (يعني په جائزو معاملاتو کښې سخت نا خوښه) ګنړم. (حيات حافِظِ مِلَّت ص۱۷)

## د وخت پابندي

حضرت حافِظِ مِلَّت رَحمَۃُاللہِ عَلَيه د وخت ډير پابند او قدردان وو، هر کار به ئې په خپل وخت کوو، مثلاً د محلّے په جمات کښې به ئې پابندئ سره د جَمعې لـمونځ کولو، د تدريس

په وخت کښې به ئې خپله ذمه وارِي په ډېره ښه طريقه ادا کوله، د چُهټۍ نه پس به کور ته تللو او د روټۍ خوړلو نه پس به ئې د څه وخت د پاره قيلُوله کوَله ( يعني د ماسپښين د لـمانځه نه مخکښې به ئې لږ وخت آرام کولو) د قيلولې د پاره به هميشه يو وخت [مُقَرَّر] وو، که د يو وخت مدرسه به وه او که دوه وخته، د ماسپښين په وخت کښې به په مقرر وخت باندې پاڅيدلو او د جَمعې سره لـمونځ ادا کولو نه پس به که د دوَيمې مدرسے وخت وو نو مدرسے ته به ئې تشرف يوړلو کنې د کتابونو مطالعه به ئې کوَله يا به ئې د يو کتاب نه درس ورکو يا به ئې حاجت مندو ته تعويذونه ورکول، په شروع شروع کښې به ئې د مازيګر نه پس د سَيل تفريح د پاره د آبادۍ نه بهر ته تشريف وړلو خو په دغه وخت کښې به هم ورسره طَلَبه يو ځائے وو، هغوئي به ترينه علمي سوالات کول او دوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ به ډېر ښکلي جوابات ورکول، که د چا تپوس له به تلل وو نو اکثر د مازيګر نه پس به تللو، که په قبرستان باندې به تيريدلو نو اکثر به په سړك باندې اودريدلو او فاتحه او اِيصالِ ثواب به ئې اوکړلو. د ماښام د لـمانځه نه پس به ئې روټۍ خوړله او بيا به ئې په انګڼ کښې چهل قدمي کوله، د ماسخُتن د لـمانځه نه پس به ئې د کتابونو مُطالَعه کوله او ورسره به ئې د مقيم [يعني مدرسه کښې د اوسيدونکو] طلباؤ څارنه هُم کوله چې هغوئي په مطالعه کښې مصروف دي او که نه. عموماً يوولس [11] بجو پورې به اُوده کيدلو او د تهجّد د پاره به د شپې په آخره کښې پاڅيدلو، د تهجّدو نه پس به هُم لږ ساعت د پاره اُوده کيدلو، که د شپې به د هر څومره ناوخته پورې وِيښ وو خو د سحر لـمونځ به ترينه کله هم نه قضا کيدلو. (حيات حافِظِ مِلّت ص۲۳ تا۲۴)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هم پکار دي چې د خپل وخت قدر اُوکړو، سُستي ختمه کړو او د ورځې د کارونو د پاره يو جَدوَل جوړ کړو، چې د هر يو کار په خپل وخت باندې د کولو عادت مو جوړ شي. په دې باره کښې شيخِ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، دَامَتْ

بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ اِرشاد فرمائي: کوشش کوئ چې د سحر پاڅيدو نه د شپې اوده کيدلو پورې د هر کار وخت مقرر کړئ، مثلاً دومره بجے تهجّد، علمي مشغولتيا، په جمات کښې د تکبيرِ اولٰي سره د جَمعې لمونځ، د اشراق، څاښت لمونځ، ناشته، کار روزګار، د غرمے روټئ، د کور معاملات، د ماښام کارونه، ښه صحبت (که دا نه وي نو تنهائي ډيره بهتره ده)، اسلامي ورونړو سره د دِيني ضرورياتو د پاره د مُلاقات وغيره وختونه مقرر کړئ، څوك چې د دې عادت نه وي کيدے شي چې په شروع شروع کښې د هغوئي د پاره لږ مشکِل وي. بيا چې کله ئې عادت جوړ شي نو د دې برکتونه به پخپله اُووِيني.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## سنّتو سره محبّت

د حضرت حافِظِ مِلَّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ټول ژوند د سرورِ کائنات صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سيرتِ پاك نمونه وه، چنانچه شيخِ طريقت، امير اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په خپل کتاب "**د نيکئ دعوت**" [پښتو] صفحه نمبر 194 کښې فرمائي: حافِظِ مِلّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ به په خپل هر عمل کښې د سُنّتو ډير زيات خيال ساتلو. يو ځل د حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ښئ ښپه زخمي شوه، يو صاحِب دوائي راوړه او وئيل ئې: حضرت! دوائي حاضِره ده. د جمِي (يعني د يخنئ) زمانه وه حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ موزے په ښپو کړي وې. هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ مخکښې د چپې ښپې موزه اوويستله، هغه صاحِب اُووئيل: حضرت ستاسو خو ښئ ښپه زخمي ده! هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ اُوفرمائيل: د چپې ښپې نه مخکښې ويستل سُنَّت دي.

يوه بله واقعه نقل کوي فرمائي: د حضُور حافِظِ مِلَّت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ عُمر مبارك داوياؤ کالو نه اَوُښتے وو، د هغه وخت واقعه ده چې په ريل ګاډي کښې په سفر وو، په کوم برت چې تشريف فرما وو، اِتّفاقاً يو ډاکټر صاحِب هم په هغه برت ناست وو، ډاکټر صاحِب ورسره خبرې شروع کړې نو د هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د عِلمي شان نه ډير متاثِره شو، او

ساعت په ساعت به ئې د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه طرف ته په حيرانئ سره کتل، د خبرو په دوران کښې ډاکټر صاحِب خپله حيراني ښکاره کړه او اُوئې وئيل: مولانا صاحِب! زه د سترګو ډاکټر يم، زه وِينم چې په دې عُمر کښې هم ستاسو په نظر کښې هيڅ فرق نه دے راغلي، بلکه ستاسو سترګې د ماشومانو په شان ځليږي، دا را ته اووائې چې آخِر د دې د پاره څه استعمالوئ؟ اوئې فرمائيل: ډاکټر صاحِب! زه څه خاص دوائي وغيره خو نه استعمالووم، خو يو عمل دے چې په هغې کښې ناغه نه راولم، [هغه دا چې] زه د شپې د اُوده کيدو په وخت کښې د سُنَّت مُطابق رانجه استعمالووم او زما يقين دے چې د سترګو د پاره په دُنيا کښې د دې عمل نه غوره بله دوائي نه شي کيدے.

## د حافِظِ مِلَّت سادګي او حيا

د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ژوند ډير ساده او په سکون کښې وو چې کوم لباس به ئې هُم استعمالولو هغه به د کاټن [يعني مالوچو] د پيړې کپړے وو، کُرته [يعني قميص] به ئې د تاکانو والا او اُوږده وه، پاجامه [ پرتُوګ] به ئې د ښپو د ګيټو [پړکو] نه اُوچت وو، په سَر باندې به ئې ټوپۍ وه او په هغې به ئې په هر موسم کښې عمامه تړلې وه، شيرواني به ئې هم اغوستله، د تللو په وخت کښې به ئې په لاس کښې عصا [کونټۍ ] وه. چې په لاره به روان وو نو نظر به ئې ښکته ساتلو او وئيل به ئې چې: زه د خلقو عيبونه ليدل نه غواړم. که په کور کښې به هم وو نو د حيا لحاظ به ئې ساتلو، چې کله ئې لونړه غټې شوې نو د کور په يوه مخصوصه کوټه کښې به ئې آرام کولو، کور ته ننوتلو وخت کښې به ئې په زوره عصا [يعني کونټۍ] زمکې ته وهله چې آواز پيدا شي او د کور خلق خبردار شي، غير محرمو زنانؤ سره به هيڅ کله هُم نه مخامخ کيدلو. (حيات حافِظِ مِلَّت ص۲۷)

# صِرف سپوره روټۍ ئې اُوخوړله او اوبه ئې اُوڅښلې

د كور دننه د هغوئي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د سادګۍ او قناعت دا حال وو چې يو ځل ئې مَشرې لُور د د ماښام د روټۍ په وخت كښې وړوكے شكور رَاوړو او مخې ته ئې ورته كېښودو او وروستو ئې د دالو پياله راوړه او نزدې ئې ورته كېښودله، رنړا كمه وه او لرې هُم وه، لهٰذا هغوئي دال اُو نه ليدل صرف سپوره روټۍ ئې اُوخوړله او اوبه ئې اوڅښلې او د روټۍ نه پس وئيلو والا دعا لوستل ئې شروع كړه، لُور ئې عرض اُوكړو: بابا جانه! تاسو دال اُو نه خوړل؟ هغوئي رَحۡمَةُ اللهِعَلَيۡه په حيرانۍ سره اووئيل: ښه! دال هم شته، ما خو وئيل چې نن صِرف اُوچه ډوډۍ ده.

**سُبۡحٰنَ الله** عَزَّوَجَلَّ! آفرين دِ وي د حافِظِ مِلَّت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په شان مباركو هستيانو باندې، چې د الله د رضا د پاره ئې د دنيا عارضي خوندونه او سهولتونو او آسانۍ پرېښودي وو او سادګي او عاجزي ئې اختيار كړي وه. **الله** پاك دِ د هغه پاكِيزه هستو په بركت مونږ له هُم په اعمالِ صالحه باندې استقامت او په هر حال كښې په خپله رضا باندې د راضي اوسيدلو توفيق رانصيب كړي.

ھمیشہ نگاہوں کو اپنی جُھکا کر — کروں خاشعانہ دُعا یا الٰہی
میں مِٹّی کے سادہ سے برتن میں کھاؤں — چٹائی کا ہو بِستر آیا الٰہی

(وَسائلِ بخشِش ص ۸۵)

حضرت حافِظِ مِلَّت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو عملي تصوير وو. هغوئي د ماشوموالي نه د فرائضو او سُنَّتو پابند وو او د كله نه چې بالغ شوے وو د تهجّد لمونځ ئې شروع كړے وو او په دې باندې ئې ټول عُمر عمل جاري ساتلے وو، **صَلٰوةُ الْاَوَّابِين** او **دَلائِلُ الۡخَيرات** شريف وغيره به ئې پابندۍ سره لوستل، تر دې پورې چې [د هغوئي د ژوند په] آخري ورځو كښې به ئې په بل چا وئيلو او هغوئي به اَورِيدلو. روزانه سحر به ئې **سورة يٰسين** او **سورة يوسف** لوستل او د جُمعے په ورځ د **سورة كهف** تلاوت د هغوئي په معمول كښې

شامِل وو. هغوئي به فرمائيل چې عمل دومره کوئ څومره چې بے ناغه [يعني پابندئ سره] کولے شئ. (حيات حافِظِ مِلّت ص۷ ملخصاً)

## کِفايت شعاري او سخاوت

حضرت حافِظِ مِلَّت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به په خپل ذات باندې د خرچ کولو په ځائے په نورو باندې خرچ کولو کښې خوشحالي محسوسوله، د هغوئي د سيرتِ مبارکه مطالعه کولو باندې بے اختياره د بنده په ژبه دا حديثِ پاك راځي چې. **لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبَّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ** يعني په تاسو کښې کامِل ايمان والا هغه دے څوك چې د خپل ورور د پاره هُم هغه څيز خوښ کړي کوم چې د ځان د پاره خوښوي. (بُخاري ج۱ ص۱۶ حديث۱۳، دار الكتب بيروت)

حافِظِ مِلَّت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ به ډيرو خلقو سره اِمداد کولو، د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د وِصال نه پس د هغوئي د ډاك [يعني د خطونو] يو پخوانے پنډوکے ملاو شو چې په هغې کښې د ټول مُلك نه راغلي خطُونه وو. په هغې کښې د ډير سُفيد پوشه عُلماء او د دِين د خِدمتګارانو داسې ليکونه او تشکّر نامے (يعني د شکريه ادا کولو خطونه) وو چې د هغوئي سره به حافِظِ مِلَّت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ مدد کوو. (حيات حافِظِ مِلّت ص۸ ملخصاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** حضرت حافِظِ مِلَّت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ يقيناً يو با عمله [يعني د فرائضو واجباتو او سنتو سره سره د نفلي عباداتو هُم پابند] عالِم وو خو دلته دا خبره ياده ساتئ چې که د يو عالِم په مُستحبّاتو او نوافِلو کښې په ظاهره کمي ښکاري نو د دې دا مطلب نه دے چې هغه د تعظيم [يعني ادب] او خدمت قابلِ نه دے. چنانچه اعلٰي حضرت، امامِ اهلِسنّت، مولانا شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د علماؤ په شان کښې فرمائي: قرآن عظيم دا ټول د انبياء عَلَیۡہِمُ السَّلَام وارِثان قرار کړي دي تر دې چې بے عمله يعني چې د فرائضو او واجباتو پابندي کوي خو په نورو نيکو کارونو، مستحباتو او نوافلو کښې سُستي کوي، داسې علماء ئې هُم وارِثان قرار کړي دي خو چې د عقائد ئې صحيح وي او سمې

لارې طرف ته رابلل كوي، دا قيد ځكه دے چې څوك په عقائدو كښې صحيح نه دي او نور خلق هُم غلطو عقائدو طرف ته رابلي هغوئي پخپله ګمراه او نور خلق ګمراه كوونكې دي، داسې كس د نبي وارِث نه وي بلكه د شيطان نائب وي، لهٰذا صرف د صحيح عقائدو والا او نور خلق هم د هغې طرف ته رابللو والا د انبياء عَلَيۡهِمُ السَّلَام وارثان دي اګر كه بے عمله وي. (شريعت وطريقت ص۹، مكتبة المدينه كراچي)

سارے سُنّی عالموں سے تو بنا کر رکھ سَدا کر ادب ہر ایک کا، ہو نہ ناتواں سے جُدا

مجھ کو اے عطارؔ سُنّی عالموں سے پیار ہے اِنْ شَآءَ اللّٰہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ۶۴۶)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ګاډے بغير د پټرولو نه روان شو

يو ځل د سفر نه په واپسئ كښې په ګاډي كښې پټرول ختم شو، ډرائيور عرض اُوكړو چې: ګاډے نور مخكښې نه شي تللے، نورو ملګرو ئې چې دا خبره واورِيدَله نو پريشانه شُو خو په دغه وخت كښې هم حافِظِ مِلَّت رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په ډير اعتماد سره اوفرمائيل: روان كړه! ګاډے به ځي اِنۡ شَآءَ اللّٰه، ډرائيور چې دا فرمان واوريدلو نو چابي ئې تاؤ كړه او ګاډے روان شو او داسې روان شو چې په ټوله لاره كښې بيا اوندريدو. (حياتِ حافِظِ مِلَّت ص۳ ملخصاً)

## پريوتونكې چت ئې اُودرَوَلو

”د نيكئ دعوت“ صفحه 194 تا 195 كښې د هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه يو كرامت ليكلے شوے دے: د الجامِعةُ الاَشرفيه باني حافِظِ مِلَّت حضرت علّامه شاه عبدُالعزيز مُحَدِّث مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ډير لوئ بزرګ وو. د هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د مبارك ژوند حالات ليكونكو د هغوئي ډير كرامات بيان كړي دي. په هغې كښې يو دا هم دے چې جامِع

مسجد مبارك شاه هم مخكښې ډير مختصر وو او ضعيفه شوے هم وو، د آبادئ زياتيدو سره د جُمات غټول هم ضروري وو، بهرحال زوړ جُمات شهيد كړے شو او نوي بنيادونه كيښودے شو او د جُمات د غټولو كار شروع شو. د مُبارك پور مسلمانانو ډير د زړه په شوق او په مينه د هغې په جوړولو كښې حِصّه واغسته، حضرت **حافِظِ مِلَّت** رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې كار هم رهنما او مشر وو، حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د جامِع مسجد د پاره په ډيره توجُّه او كوشش چنده راټوله كړه، د مبارك پور په خلقو كښې ډير جوش او جذبه وه، د غريبئ باوجود مسلمانانو د خپل ديني غيرت پوره پوره ثبوت وركړو، سړو د خپلې ګټې په ذريعه او زنانئ د خپلو [سرو او سپينو زرو د] كالو وغيره په ذريعه اِمداد اوكړو. د چت اچولو نه پس حاجي محمّد عُمر د ډيرې وارخطائې په حالت كښې په منډه منډه د حضرت رَحْمَةُالله عَلَيْه خوا ته راغلو او اُوئې وئيل: حافِظ صاحب د جامع مسجِد چت په ښكته راروان دے [يعني د غورزيدو خطره ئې ده] اوس به څه كيږي! حاجي [محمّد عُمر] صاحِب د دې خبرې سره په ژړا شو. حضرت حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فوراً پاڅيدلو، اودس ئې اوكړو او حاجي صاحِب سره د كوره اُووَتلو، او خپل ګاونډي خان محمّد صاحِب ئې د ځان سره روان كړلو، جامع مسجد ته چې اوورسيدل نو بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط ئې اولوستو او يو څو لرګي ئې ورته اودرول. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ چت داسې برابر او سم شو چې نن هم ورته اُوګورئ نو پرې پوهه به هم نه شئ چې د چت كومه حِصّه راښكته شوې وه!

## د حافِظِ مِلَّت ديني خدمات

حضرت حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يو ډير بهترين مدرِّس، مُصنِّف، مناظِر او منتظِمِ اعلٰي وو د هغوئي د ټولو نه عظيمه كارنامه الجامعةُ الاشرفيه مبارك پور (ضلع اعظم ګړه يُو پي هند) جوړول دي چې د هغې نه فارغ التّحصيل علماء د هِند نه واخله ايشيا، يورپ، امريكه،

افريقه او مختلفو ملكونو كښې د دينِ اسلام د سربلندئ او د مسلكِ اعلٰى حضرت په ترويج و اشاعت كښې مصروفِ عمل دي. (حياتِ حافِظِ مِلَّت ص۳۵ ملخصاً)

## حافِظِ مِلَّت شخصيّت ساز وو

هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د يو شفيق او مهربانه پلار په شان د طلباء د ضروورياتو او تعليم و تربيّت سره سره د هغوئي شخصيّت هم بهتر كولو چنانچه رَئِيسُ الْقَلَم حضرت عَلَّامه ارشد القادري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ارشاد فرمائي: د اُستاد او شاګرد تَعَلُّق عام طور د حلقهٔ درس [يعني سبق وربنودلو] پورې محدُود وي، خو د حافظ ملّت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خپلو شاګردانو سره د تعلّقاتو دائره دومره فراخه وه چې ټوله مدرسه به د هغې په يو ګوټ كښې راشي، دا د هغوئي د زړه او نظر فراخي او د هغوئي بے انتها حوصله وه چې په خپل حلقهٔ درس كښې د شامليدونكي هر طالِبِ عِلم بيشميره ذمه واريانې به ئې په خپل سر واخِستلې، كه طالب علم به په درس كښې وو نو كتاب به ئې ورته وئيلو او كه بهر به وو نو د هغوئي د اخلاق او كردار څارنه به ئې كوله، كه [شاګردان] به په يو خاص مجلس كښې شريك وو نو د عالم دين د احسانونو او اوصافو درس به ئې وركولو، كه بيمار به شو نو د تعويذونو او نقشونو په ذريعه به ئې د هغوئي علاج كولو، كه تنګدستئ كښې به اخته شو نو د هغوئي مالي اِمداد به ئې كولو، چې سبق به ئې اووئيلو او فارغه به شو نو ملازمت به ئې ورله كتلو او كه د ملازمت په دوران كښې به څه مشكل ورپيښ شو نو د هغې څه حَل به ئې ورله كتلو، د طالِبِ علم ذاتي ژوند، لكه د واده او غم ښادئ پورې د ټول خاندان د مَسئَلو په حل كولو باندې به ئې توجّه وركوله، كه طالبِ علم به سبق وئيلو او كه فارغ به شو او لاړ به شو [خو په هر حالت كښې به ئې] د يو پلار په شان د هغه سرپرستي او كفالت كولو، دا دے هغه جوهرِ مُنفَرِد چې حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته د هغوئي د زمانے په خلقو كښې د ژوند د يو معمارِ په حيثيّت يو ممتاز او په ټولو كښې ښكاره حيثيت وركوي. (حياتِ حافِظِ مِلَّت، ص۳۷ بتغيير)

# د هغوئي تصانيف

هغوئي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ په تحرير و تصنيف كښې هم كامِل مهارت لَرَلو، هغوئي په مختلِفو موضوعاتو باندې كتابونه ليكلي دي چې په هغې كښې د يو څو نومونه دا دي: (۱) مَعارِفِ حديث (د احاديثو مباركو ترجمه او د هغې د عالِمانه تشريحاتو مجموعه) (۲) اِرشادُالقرآن (۳) اَلمِصباحُ الجَديد (دا رساله د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه نه د ''حق اور باطل کے درمیان فرق'' په نوم باندې شائع شوي ده.) (٤) اَنبَاءُالغيب (د علمِ غيب په عنوان باندې يوه ښكلي رساله) (٥) فِرقۂ ناجِيه (د يو اِستِفتا جواب) (٦) فتاوٰي عزيزيه (په شروع شروع كښې د دارالعلوم اشرفيه د دارالافتا د سوالاتو د جواباتو يوه مجموعه، غير مطبوعه) (٧) حاشيه شرحِ مرقات. (حيات حافِظِ مِلّت ص۳۷ ملخصاً)

# د حافِظِ مِلَّت ملفوظات

﴿۱﴾ د بدن د قوّت د پاره ورزِش او د رُوح د قوّت د پاره تَهَجُّد ضروري دے. ﴿۲﴾ د كار سرے جوړ شه ځكه چې كار سړے معزّز جوړوي. ﴿۳﴾ احساسِ ذمه داري د ټولو نه قيمتي سرمايه ده. ﴿۴﴾ د وخت ضائع كول د ټولو نه زياته محرومي ده. (حيات حافِظِ مِلّت ۲۲ ملتقطاً)

# بيعت و خلافت

حافِظِ مِلَّت رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ د شيخ المَشائخ حضرت مولانا سيد علي حسين اشرفي مياں كچھوچھوي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ مُريد او خلِيفه وو. د استادِ محترم صدرالشّريعه حضرت علامه مولانا امجد علي اعظمي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ نه هم ورته خلافت او اجازت ملاؤ وو. (سوانحِ حافِظِ مِلّت ص۷ ملخصاً)

# د حافِظِ مِلَّت مقام د علماؤ په نظر كښې

صدر الشّريعه بدرالطّريقه مفتي امجد علي اعظمي رَحْمَۃُاللہِعَلَیْہ فرمائي: زما په ژوند كښې ما

ته دوه کسان په شوق سره سبق وئيلو والا مِلاو شوي وو، يو مولوي سردار احمد (يعني محدّث اعظم پاکستان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه) او دويم حافظ عبدالعزيز (يعني حافِظِ مِلَّت مولانا شاه عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ) (حيات حافِظِ مِلَّت ص ۸۲۵)

شهزادهٔ اعلیٰ حضرت مفتي اعظم هِند علامه مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې دنيا نه چې کوم خلق لاړ شي د هغوئي ځائے خالي پاتې شي، خصوصاً د مولانا عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شان جَليلُ القدر عالِم، مردِ مؤمن، مجاهد، عظيمُ المرتبت شخصيت او ولي ځائے ډکيدل ډير مشکل دي. (حيات حافِظِ مِلَّت ص۷ بتغيير)

## په بيمارئ کښې هم د حُقُوقُ الله خيال ساتل

حضرت حافِظِ مِلَّت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د دِينِ متِين په خدمت او د سُنيّت د عام کولو په مُقَدَّسه جذبه کښې نه ورځ کتله او نه شپه، چنانچه د ډير زيات کار او د آرام د کمي په وجه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيمار شو، ډاکټرانو ورته د آرام کولو سخت تاکيد اوکړو خو د درس و تدريس سلسله ئې پرينښوده. په رمضان شريف کښې ئې خپل کور ته تشريف يوړلو خو د بيمارئ باوجود ئې يوه روژه هُم قضا نه کړه، په تراويح کښې ئې قرآنِ پاک ختم کړو او هر کار به ئې په خپل مقرر وخت باندې کولو. (حيات حافِظِ مِلَّت ص۵ ملخصاً)

## وفات

31 مئ 1976ء د مازيګر تقريباً څلور بجے چې خلقو اوليدلو نو د هغوئي اُمِّيد پيدا شو چې اوس به ډير زَر شِفاياب [يعني جوړ] شي بلکه د شپې لَسو بجو پورې د هغوئي په طبعيت کښې د کافي حده پورې د سکون او صِحَت يابئ اثار ښکاره کيدل خو خلافِ اُميد په يکم جُمادَی الاُخرٰی ۱۳۹۶ھ بمطابق 31 مئ 1976ء د شپې پينځه مينټه کم دولس بجے ئې داعئِ اجل ته لبّيک اووئيلو ( يعني وفات شولو) اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْن. (حياتِ حافِظِ مِلَّت ص۵ ملخصاً وغيره)

د هغوئي رَحْمَةُاللّٰہِعَلَیْہ مزار د الجامعة الاشرفيه مبارك پور په انګنړ كښې د "قديم دارُ الاِقامة" نه مغربي طرف ته او د "عزيزُ المَساجِد" په شمال كښې واقع دے، هر كال په دغه تاريخِ وفات باندې د هغوئي د عرس انعقاد كيږي. (سوانح حافِظِ مِلَّت ص۹ ملخصاً وغیرہ)

الله پاك دِ مونږ ته د دې مقدّسو هستو په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق راكړي. **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين**

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ کزاره جوړیدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکي د **دعوتِ إسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنّتو د تربيَت د پاره **مَدَنِي قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَنِي إنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَنِي مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د إصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې إصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com